رسنیزه اعلامیه

## په افغانستان کې خصوصي زده کړې د اداري فساد پر وړاندې زیانمننونکي دي

**کابل، افغانستان- د لړم ۱۵مه، ۱۳۹۸ کال:** د اداري فساد پر وړاندې مبارزې د څارنې او ارزونې خپلواکې ګډې کمیټې "په پوهنې وزارت کې د اداري فساد د زیانمننو ارزونې راپور" کې د وړاندې شوو سپارښتنو د پلي کېدو په تړاو پنځم څارنیز راپور خپور کړ. په پوهنې وزارت کې د اداري فساد د زیانمننو د ارزونې اصلي راپور د ۲۰۱۷ کال په اکتوبر میاشت کې نشر شوی و چې په پوهنیز نظام کې یې د پوهنې وزارت او نورو اړوندو بنسټونو اړخونو لخوا د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې په هڅو تمرکز درلود او د سمون لپاره یې وړاندیزونه مشخص کړي.

د څارنې او ارزونې کمیټې د ارزونو ټیم د ارزونو پربنسټ، د پوهنې وزارت او اړوندو شریکانو یې د دې څارنیزې دورې پرمهال ۹ سپارښتنې په بشپړ ډول پلي کړي چې په دې سره د دې ډول سپارښتنو شمېر چې په بشپړ ډول پلي شوي ، ۳۷ سپارښتنو ته لوړ شو. دغه سپارښتنې په لاندې ډول دي:

- د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمیسیون د ګمارنې بهیر په څارنیزو فعالیتونو کې مدني ټولنو ته ونډه ورکول،
- د سیمه ایزو زده کړو د پالیسی د ارزونې راپور نشرول،
- شکایتونو ته د رسیدنې میکانیزم جوړول،
- د تفتیش عالي کمیټې جوړول،
- اداري فساد پر وړاندې مبارزې د هر اړخیز سمون او پلان تدوین او نشرول،
- د پوهنې په هکله د پوهاوي د لوړولو بنه والی،
- د داخلي تفتیش ریاست په تشکیل کې د ۱۰سلنه مفتشینو زیاتوالی، او
- په پوهنې وزارت کې د ښوونځیو د اداري شوراګانو د ناستو یاداشت او ثبتول، شامل دي.

د دې څارنیزې دورې پرمهال، ۵ نورې سپارښتنې هم د هغو ۲۸ سپارښتنو په ډله کې ورزیاتې شوې دي چې تر ۵۰ سلنې پلې شوې دي. په دې سپارښتنو کې د تعلیمي نصاب بیا کتنه، د ښوونکو د باور ورکوونې سیستم رامنځته کول، د ښوونځیو د اداري شوراګانو د دندو لایحې بیا کتنه، د ښوونځیو د درسي نصاب د همغږۍ لپاره د یوې کاري ډلې جوړول، د ښوونکو د روزنې په مرکزونو کې د عملي زده کړو زیاتوالی، د ښځو لپاره د سواد زده کړو د برنامو پلي کول، د دولسم ټولګیو فارغینو ته د شهادتنامو د وېش بهیر برېښنايي کول، د پوهنې وزارت د ښوونکو او کارکوونکو لپاره د وړتیا لوړونې د برنامو پراخول او د پوهنې وزارت له لورې د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې پلان او د اصلاحاتو پلان تطبیقول، شامل دي.

همدارنګه، په پنځمه څارنیزه دوره کې، ۱۸ سپارښتنې تر ۲۵سلنې پلې شوې دي. د معاشونو د ورکړې لپاره د برېښنايي لارو چارو کارول د دې سپارښتنو ستره بېلګه ده. د اصلي ارزونې پرمهال، د پوهنې وزارت یوازې ۵۳ سلنه کارکوونکو ته د بانک یا نورو برېښنايي لارو پر مټ معاشونه ورکول کېدل، خو اوس دا بهیر تر ۶۷سلنې لوړ شوی دی. پاتې ۳۳سلنه کارکوونکو ته په برېښنايي لارو د معاشونو د ورکړې لپاره د ام-پیسه ترځنګ ګرځنده بانکي ټیمونو هم کار پیل کړی دی.

په دې څارنیزه دوره کې، په ۱۸ سپارښتنو کار پیل شوی دی. سربېره پر دې، ۸ سپارښتنې لا هم په راتلونکې کې تطبیق ته ځنډېدلي دي چې د پوهنې وزارت او اړوندو همکارو بنسټونو کار او فعالیت ته اړتیا لري. داسې سپارښتنه نه شته چې د پوهنې وزارت پرې تر دې دمه کار نه وي پیل کړی.

**د پوهنې وزارت او په افغانستان کې خصوصي زده کړې**

په افغانستان کې خصوصي ښوونځیو په تېره یوه نیمه لسیزه کې د کمیټ له مخې د پام وړ پرمختګ کړی. د پوهنې وزارت د شمېرو له مخې، تر ۱۳۹۸ لمریز کال پورې، په ټول هېواد کې ۲۲۱۸ ښوونځیو فعالیت پیل کړی. د خصوصي ښوونځیو د چارو د تنظیم په موخه د پوهنې وزارت په چوکاټ کې د خصوصي تعلیمي موسسو ریاست فعالیت کوي.

د خصوصي تعلیمي موسسو مقرره (۱۳۹۸)، په افغانستان کې د خصوصي ښوونځیو حقوقي چوکاټ تشکیلوي. یاده مقرره د ډېرو سختو شرایطو او کلکو معیارونو له کبله د پلي کېدو وړ نه ده او په ځینې برخو کې په خپله د فساد لامل شوې ده.

د څارنې او ارزونې کمیټې موندنې ښیي چې زیاتره خصوصي ښوونځي په دې مقرره کې له تعریف شوو شرایطو سره سمون نه لري. په حقیقت کې، د دې مقررې سخت شرایط او معیارونه د څېړنې پلاوي او د ارزونې غړو ته زمینه برابروي چې له خصوصي ښوونځیو سره جوړجاړی وکړي. سربېره پر دې، په پوهنې وزارت کې د خصوصي زده کړو ریاست له لورې خصوصي ښوونځیو ته د جواز د ورکړې بهیر هم د اداري فساد پر وړاندې زیانمننونکی دی.

###